مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۳/۰۸/۲۲

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(پنځمه برخه)

## د شينوارو بغاوت

د خوست له جګړې (۱۹۲۴ز،) کال وروسته چې د انګرېزانو پلان له ناکامۍ سره مخ شوی ؤ نو انګرېزان موکې ته په انتظار، په کمين کې وو. حال دا چې د امان الله خان د حکومت پر خلاف يې خپلو شومو تبليغاتو ته په پرله پسې توګه دوام ورکړی ؤ، په کابل او يو شمېر ولايتونو کې د حکومت پر خلاف عجيب ناوړه پروپاګنډ روان وو په دې اړه عيني شاهد ميرغلام محی الدين انيس ليکي:«... وړاندې له هغې چې د شينوارو يا د سقو بريدونه ترسره شي، د حکومت پر خلاف د تبليغاتو پراخه لړۍ روانه وه، د بېلګې په توګه: په خلکو کې هره ورځ عجيبه ډنډورې ويل کېدلې، **داسې چې: د آذان کول منع کېږي او جوماتونه د حکومت لخوا، (په غربي ډانس کولو سره) ترل کېږي،** يا دا چې پاچا، ملايان او ملکان تحقير او توهين کړي دي او داسې نور ډول، ډول آوازې اورېدل کېدې چې همدغه ډنډورې نه يوازې په کابل، بلکې په لوګر، شمالي او د هېواد په ټولو لرې او نږدې سيمو کې يو شان رواني وې، داسې فکر کېږي چې دا ډول تکراري او هم مهاله تبليغات د ځانګړي پروګرام او لارښوونې په چوکاټ کې ترسره کېږي.»[1]

د شينوارو د پاڅون لپاره د يو شمېر کوچيانو او سنګوخېلو قوم تر منځ يوه جګړه پلمه شوه چې د :«۱۳۰۷ل. ل، کال د لړم په مياشت کې کوچيان چې د شينوارو د سنګوخېلو له سيمو تېرېدل تر منځ يې جګړه پېښه شوه او څو تنه سنګوخېل يې ووژل، شينوارو قاتلان ونيول او ځايي حکومت ته يې تسليم کړل خو حکومت قاتلان خوشې کړل، وروسته له دې شينوارو د جلال آباد عالي حکومت ته شکايت وکړ خو بيا هم د دوی غږ وانه ورېدل شو، هغه وو چې د شينوارو مخالفت له حکومت سره پيل شو، په داسې حال کې چې د حکومت پر بې عدالتيو او د کفر د تورونو پورې کولو په اړه د فتنه اچوونکو کسانو لخوا سخت تبليغات روان وو او پټو او منظمو لاسونو د جګړې زمينه رامنځته کوله. [2] (د شينوارو د بغاوت په اړه د ميرغلام محی الدين انيس په کتاب (بحران و نجات) کې په تفصيل سره مالومات لوستلی شئ.)

انګرېزانو د شينوارو او کوچيانو تر منځ له خپل منځي شخړې څخه ښه ګټه پورته کړه، له يوې کوچنۍ پېښې يې د حکومت پر خلاف نه مهارېدونکې جګړه رامنځته کړه.

له بلې خوا انګرېزانو د شينوارو د بغاوت پر مهال د سردار محمد ايوب خان يو زوی چې په هند کې اوسېدۀ، افغانستان ته راولېږۀ ترڅو په محمد عمر باندې خلک راټول او د امان الله له حکومت سره جګړه وکړي، په داسې حال کې چې انګرېزانو د افغانستان د پاچاهۍ لپاره جنرال نادر خان چې په فرانسه کې اوسېده هم په نظر کې نيولی ؤ «د ۱۹۲۸ز، کال، د دسامبر په ۲۲مه نېټه د امير شېر علي خان لمسی، محمد عمر خان چې د هند په الله آباد کې د انګريزانو تر حمايې او څارنې لاندې اوسېده، وهڅول شو چې له هند څخه افغانستان ته ولاړ شي، هغه وو چې محمد عمر د افغان ياغيانو سيمې ته د ورتلو په هڅه کې شو چې د امان الله پر خلاف د ياغيانو رهبري په لاس کې واخلي، انګرېزانو غوښتل چې د خوست د (۱۹۲۴ز) کال اړدوړ په شان د افغانستان د تخت او سلطنت لپاره يو بل مدعي وړاندې کړي او د ځان غوښتونکي او خپلواک امير امان الله خان پر ځای يې واکمن کړي. د انګرېزانو مطبوعاتو [په دروغو] خبر ورکړ چې محمد عمر په قوم مومند دی او له هغوی سره د خپلوی اړيکې لري او هم د شينوارو په منځ کې له زيات نفوذ څخه هم برخمن دی.

---

[1] : مير غلام محی الدين انيس: بحران و نجات. ۶۱- ۶۲مخونه.
[2] : مير غلام محمد غبار: افغانستان در مسير تاريخ. ۸۱۸مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د انګرېزانو دغه عمل د افغانستان حکومت لپاره خورا خواشينوونکی ؤ چي په اړه يي په لندن کي افغان سفير شجاع الدوله د انګريزانو د بهرنيو چارو وزارت ته د اعتراض، رسمی ياد داښت ورکړ ... .»[3]

په کابل کي د انګريزانو استازي وليکل: که چېري محمد عمر، ځان د افغانستان امير اعلان کړي نو دا کار به د انګريزانو لخوا د توطيي په رامنځ ته کولو کي ښه دليل ثابت شي... په همدي وخت کي انګرېزي استخباراتو راپور خپور کړ چي محمد عمر له هند څخه افغانستان ته تښتيدلی دی او د هغه اړيکي يي د تګاب له ملا او عبدالواحد شينواري[4] سره ونښودلي، د تګاؤ ملا د سقاؤ او شينوارو ياغيانو تر منځ يي اړيکي ساتلي. بل تن عبدالواحد شينواری چي مستعار نوم يي (وېډ) او د استراليا تبعه پېژندل شوی ؤ... او په پاريس کي يي له نادرخان سره هم ليدلي وو... .[5]
(د محمد عمر په اړه پورته دوه پاراګرافه د ليکنو د څلورمي برخي په پای ليکل شوي وو چي د تسلسل په موخه له هغي ليکني را واخيستل شول.)

د استخباراتو کړنلاره داسي ده چي ډېری خپلي پټي کړني د اړونده حکومتو له نورو ادارو څخه په پټه ترسره کوي، تر دې چي په ځينو ځانګړو کړنو باندې د هېواد ولسمشران هم نه خبرېږي، که د هېواد چارواکي د استخباراتو پر عملياتو خبر هم وي د استخباراتو اداري لخوا ورته ويل کيږي چي ځانونه ناخبره وښايي، په کابل کي د هغه مهال د انګرېزانو سفير (همفريز) او د هند د بهرنيو چارو وزارت مرستيال (سر ارتر هرتلزل) له دا ډول کسانو څخه وو، ډګروال لارنس او محمد عمر چي د انګرېز استخباراتو لخوا د مشرقي د پاڅون د اداره کولو په موخه په پټه رالېږل شوي وو، په هکله يي (سر ارتر هرتلزل) وويل:«که چېري هغه [لارنس] او عمر دواړه ورک شي نو دا به ډېر سخت کار شي.»
له هند څخه د عمر لادرکه کېدل، [د امان الله خان د بهرنيو چارو وزير] غلام صديق راوپاراوه ... هغه همفريز ته وويل:«په ۱۹۲۴ ز، کال کي د منګلو شورش په رښتيا سره کرار شوی ؤ خو له هند څخه د عبدالکريم تېښته د دې باعث شوه چي جنګ بيا پيل شي چي د افغان حکومت د سر او مال د زيات تاوان سبب وګرځيد، دا به له مصيبت څخه ډک يو کار وي که چېرې عمر په موجوده بحران کي افغانستان ته راشي... عمر چي له عبدالکريم څخه ډېر خطرناک دی که په دې بريالی شي چي هغه شورش ته قوت ورکړي، [په داسي حال چي مخ په غلي کيدو دی] چي مالوميږي په اخره کي غلی کيږي.[6]
کله چي انګرېزان په شينوارو کي د محمد عمر د شتوالي له امله د افغان حکومت له سخت غبرګون سره مخ شول نو انګرېزان په دې هڅه کي شول چي عمر هند ته وغواړي، هغه وو چي انګرېزانو له شينوارو څخه د هغه غوښتنه وکړه چي ګواکي عمر له هنده افغانستان ته پرته له اجازې تښتيدلی دی، ريه تالي ستوآرت يي په اړه ليکلي:[سردار محمد عمر خان] ته شينوارو په افغانستان کي ځای ورکړی ؤ، اوس هغوی [انګرېزانو ته] پيشنهاد ولېږه چي [عمر] به تر ټاکلو شرايطو لاندې بريتانويانو ته تسليم کړي:«د هغه معاش دې کم نه شي، هغه ته دې د پټيدلو په خاطر سزا ورنه کړای شي، که چېرې هغه ته [په افغانستان کي] د پاچا په توګه ضرورت شي، نو پنځلس زره روپۍ دې ورکړای شي، بريتانيه دې ژمنه وکړي چي [په راتلونکي کي د اړتيا پر مهال به عمر] شينوارو ته ورکوي.»
ريه تالي ليکي چي د لومړيو دوو شرطونو منل آسان وو په دې شرط چي عمر دې په موقتي توګه برما ته ولاړ شي، د دريم شرط په باره کي بريتانويانو غوښتل د پيسو اندازه کمه کړي، ليکن هغوی دا خبره رد کړه چي عمر دې د افغانستان [د راتلونکي] پاچا په توګه وساتي.
هغو په لندن کي وويل: دا د احتمال نه ډېره ليرې خبره ده چي په شرطونو کي دا شی زيات کړای شي چي هغه [عمر] دې د افغانستان د ټولو خلکو له خوا د پاچا [په توګه] انتخاب شي او د هند حکومت فکر وکړ، د داسي کار د کولو لپاره به دا په ښکارند ډول غلط تعبير وي.[7]

---

[3] : ډاکټر ويکتور ګريګوويچ کارګون: افغانستان در سالهای بيست و سي، قرن بيستم ميلادي. دري ژباړه: پوهاند ډاکټر جلال الدين صديقي. ۷۳مخ.
[4] : عبدالواحد شينواری چي په (مسټر وېډ) هم مشهور ؤ، د استراليا تبعه او يو پانګوال ؤ چي د شينوارو په بغاوت کي يي خپل رول لوبولی دی، د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ د ډاکټر عبدالرحمن زماني کتاب (بازنگری دورهٔ امانی و توطئهٔ های انګليس)
[5] : هماغه کتاب. ۲۵۲مخ.
[6] : ريه تالي ستوارټ: اور په افغانستان کي. ۵۸۳مخ
[7] : اور په افغانستان کي. ۶۷۵مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

انګرېزانو سردار محمد عمر خان، حبيب الله سقاؤ او د هغوی په څېر نور کسان يوازې د امان الله خان د حکومت د کمزوري کولو او له منځه وړلو په موخه ډګر ته رايستلي وو، په اصل کې انګرېزانو له پخوا ښځه جنرال نادر خان د افغانستان د پاچاهی لپاره په نظر کې نيولي ؤ. (چې په خپل ځای کې به پرې وغږېږو.)
د شينوارو ياغيانو مشر محمد افضل خان او د جلال آباد د ياغيانو مشر محمد عالم خان، د امان الله خان پر خلاف يوه اعلاميه خپره کړه. څېړونکي په دې نظر دي چې د اعلاميې متن او محتويات د افضل خان او عالم خان له سويې ډېر لوړ دي، ځيني وايي چې اعلاميه د انګرېز جاسوس لارنس لخوا ليکل شوې ده او نور په دې اند دي چې د انګرېزي اجنټ، عبدالواحد (مسټر وېډ) له لوري ترتيب او چاپ شوې ده، اعلاميه چې په دوولسو مادو کې خپره شوې وه چې له هغې څخه ځيني مهمې برخې په لنډه توګه راخلو، په اعلاميه کې راغلي دي چې **د امان الله ريفورمونه کافر او د شريعت خلاف دي چې بايد له منځه يوړل شي، د ښځو حجاب نه مني، پېغلې نجونې يې اروپا ته استولې دي، رشوت او فساد ته يې وده ورکړې ده، تياتر، سينماګانې او نور يې رامنځ ته کړي دي، د حکومت پلويان د اسلام دښمنان دي، امان الله شريعت ته درناوی نه کوي، د جمعې او حج ورځو ته يې تغير ورکړی دی، امان الله پيغمبر (ص) ته درناوی نه کوي نو په دې توګه امان الله بايد ووژل شي.**
په اعلاميه کې د ياغيانو مشر محمد عالم غوښتنه کړې وه چې د امان اخبار [امان افغان جريده] پروړاندې دې د (الامان) يو اخبار چاپ شي. هغه دا هم وويل چې د امان الله پر ځای چې هر څوک وټاکل شي بيعت به ورسره وکړي.[8]
په ننګرهار کې وضع کړکېچنه وه، د جلال آباد ولايت لرې پرتې سيمې مخالفينو نيولې وې او د جلال آباد ښار د مخالفينو لخوا کلابند شوی ؤ «د بهرنيو چارو وزير غلام صديق څرخي په الوتکه کې جلال آباد ته واستول شو چې د ياغي شينوارو مشر محمد افضل خان سولې ته وهڅوي او په يوازې ځان پرته له کوم ځواک څخه غني خېلو ته ولاړ چې ويې کولی شول محمد افضل خان سولې ته راواړوي.»[9]
غلام صديق خان «د لاندې التيماتوم سره کابل ته راستون شو، قبايلو موافقه کړې وه چې اوربند وکړي، تر څو د امان الله له لوري ځواب راورسيږي او قبايلو په لاندې ټکو ټينګار کاوه:

**۱- ملکه ثريا دې طلاقه شي.**
**۲- پرته له محمود طرزي ښځه (چې غوښتل يې بندي يې کړي) نوره د طرزي کورنی دې تبعيد شي.**
**۳- د نجونو ټول ښوونځي دې وتړل شي.**
**٤- هغه نجونې چې د زده کړو لپاره ترکيې ته استول شوي دي بيرته دې راوغوښتل شي.**
**٥- پرته له بريتانيې دې نور ټولې بهرنی نمايندګی وتړل شي.**
**٦- نظام نامه چې د نويو قوانينو مجموعه ده له مينځه يوړل شي.**
**٧- ماليه دې ټيټه کړای شي.**
**٨- هغه قانون دې له مينځه يوړل شي چې اروپايي لباس ته لومړيتوب ورکوي.**
**٩- حجاب دې بيرته په خپل پخواني شکل دود شي.**
**١٠- اسلامي قانون چې د دې خاوري قانون دی جاري شي.**
**١١- ملايانو ته دې په حکومت کې ځای ورکړل شي.»**[10]

---

8 : د نوموړې اعلاميې بوره متن د ريه تالي ستوآرټ په کتاب: اور په افغانستان کې، په ۵۵۱-۵۵۰-۵۴۹مخونو کې لوستلی شی.
9 : مير غلام محی الدين انيس: بحران و نجات. ۵۰ مخ.

10: اور په افغانستان کې.۵۵۲مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ

وروسته له دې د حکومت لخوا علي احمد خان د مشرقي تنظيمه رييس وټاکل شو، علي احمد خان ورسره خپل پوځي ځواک په جګدلک کې پرېښود او له هغه ځايه په يوازې ځان د خوګيانيو مرکز، هاشم خېلو ته ولاړ، هلته يې جرګه جوړه کړه او د قومونو مشران يې په چهار باغ کې د (نقيب صاحب)[11] کور ته بوتلل.[12]

هغه وو چې د ۱۹۲۹ز، کال د جنورۍ په ۶مه نېټه د مشرقي له ياغيانو او حکومت ترمنځ د اوربند تړون وشو.[13]
دا مهال په پروان او کاپيسا کې د سقاؤ د زوی په مشرۍ د حکومت خلاف فعاليتونه روان وو، همهاله انګريزانو د امان الله د راپرځولو او مورال ضعيفولو لپاره د يو شمېر ملايانو، پيرانو، ملنګانو، غلو او رهزنو څخه په حيرانونکي توګه کار واخيست چې له هغو څخه يو تن ملنګ د کابل په جومات کې پيدا شوی ؤ، په داسې حال کې چې د افغانستان ټولنه پاريدلي وه، د امير [امان الله خان] مور، عليا حضرتې ته يې د يو فوق العاده فقير په باره کې خبر ورکړ چې د کابل په جومات کې يو داسې فقير پيدا شوی دی چې په خاموشۍ سره منځګړيتوب کوي، د دې فقير عادت داسې ؤ چې د ۲۱ ورځو لپاره به په منظم ډول غلی او چُپ پاتې کيده، بيا به د يوې ورځې لپاره د خبرو کولو په خاطر راپورته شو او په يويشتمه ورځ به هغه ټولې وړاندويني کولې... نوموړی فقير، عليا حضرتې ورغوښت، هغه وو چې فقير سر راپورته کړ، عليا حضرتې ته يې وويل : **«ستا زوی امان الله به د حبيب الله په واسطه تاج او تخت له لاسه ورکړي.»**[14]

نېټه: ۱۴۰۲/۵/۳۱ل. ل

**نور بيا**

---

[11] : سيد حسن آغا مشهور په (نقيب صاحب) د سيد حسن آغا نيکونه له عراق څخه هند ته تللي وو، سيد حسن آغا د امير حبيب الله خان د پاچاهۍ پر مهال له کوټې کابل، بيا ننګرهار ته راغلي دي.
د سيد حسن آغا په اړه، محمد صادق مجددي په خپلو خاطرو:(يادداشتهای خاطرات سياسي حضرت محمد صادق المجددي) کې ليکي چې سيد حسن صاحب ړيره کلوله چې له امله يې روحانيونو نيوکه وکړه، سيد حسن امير حبيب الله خان ته شکايت وکړ، امير وويل چې ږيره بايد ولري.

مجددي چې له خپل سيال نقيب صاحب سره رقابت درلود ليکي چې له هغه مهاله چې نقيب صاحب کابل ته راغلی دی، په دې پنځو کلونو کې چا نه دی ليدلي چې هغه فرض لمونځ په جمع يا يوازې کړی وي. (۱۰۵مخ)

سيد حسن آغان په ۱۹۲۹ز، کال کې له يوې جرمنۍ جلکۍ سره واده وکړ چې پير سيد احمد ګيلاني د همدغې جرمنې زوی دی چې وروسته هغه په پير صاحب، افندي صاحب او شېخ احمد ګيلاني باندې مشهور شو.

[12]: ميرغلام محی دالدين انيس: بحران ونجات. ۵۶مخ؛ مير غلام محمد غبار: افغانستان در مسير تاريخ. ۸۲۰مخ.

[13] : پروفيسور داکتر يوری تيخانف: نبرد افغاني استالين، سياست قدرت های بزرګ در افغانستان، و قبايل پشتون.
دري ژباړه: عزير آريانفر. ۲۰۵مخ.

[14] : اور په افغانستان کې.۵٤۳مخ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ